# ستاسو دبيا كتني خپلواك افسر



ددولس كلنو اوله هغه پورته عمر ماشومانو ته خبر پاڼه

Pashto

Kent County Council

دا پاڼه دکینت دکونسل دماشومانو دسوسیال سرویس پلانونه تشریح کوي چې څرنګه ستاسو پاملرنه اوستاسو دبیاکتنې دخپلواك افسر چې له تاسې سره یې یو ځای پلانونه جوړ کړي اوهغه کسان چې له تاسو سره کارکوي دبیا کتنې غونډه وګوري ۰

## ستاسو دپاملرنې اومواظبت پلان

**ستاسو دپاملرنې پلان وایي چې څرنګه به ستاسو مواظبت اوپالنه وشي ۰ او ستاسو کومې اړتیاوې به پوره شي ۰ چې پلان په اغیزمنه توګه عملي شي ۰ ستاسو دپاملر په پلان کې لاندې ټکي شامل دي :**

- **څوك ستاسو مراقبت کوي ۰(ستاسو ځای پر ځای کوونکی )**
- **چېرې ښوونځي یا کالج ته ځی ۰**
- **ستاسو دروغتیا په باب څنګه ډاډه کیدای شو ۰**
- **څرنګه کولای شې ځینې چارې ترسره کړې اوخوند ترې واخلې لکه ورزشي لوبې اویا ځینې دخپلې خوښې کارونه ۰**
- **کله اوچیرته به خپله کورنۍ اوهغه کسان چې تاسو ته مهم دي ووینئ ۰**
- **څرنګه خپل مذهبي مراسم اومناسك اوځینې فرهنګي مسایل تر سره کولي شئ ۰**
- **ایا کومه قانوني مساله شته ۰**
- **په راتلونکي کې به تاسو ته څه درپیښ شي ۰**

**ستاسو دمواظبت پلان به چې که څه پیښه وشي اوستاسو پلان کار ونه کړي یا عملي نه شي له سره جوړ شي ۰ چې دې ته احتمالي پلان وایي ۰**

**سوسیال کار کوونکی اومدیر ستاسو دساتنې دپلان مسوولیت لري دی باید په غور سره غوږ کیږدي ۰ اوستاسې غوښتنې اواحساسات دپلان په اړوند واوري ۰همدارنګه دوی باید دا هم واوري چې ستاسو والدین څه وایي اوله نورو کسانو سره ستاسو دښوونکي په باب څه وایي ۰**

## ستاسو دبیا کتنې غونده

کتوونکي غونډه کوي کوم چې سوسیال سرویس یې باید په منظمه توګه دتول څوانو اوماشومانو له پاره چې دموظبت لاندي دي جوړه کړي ٠کتونکي به ستاسو په پلان  موافقه وکړي اوداړ به حاصل کړي ستاسو هر یو په پلان کی شامل دي ٠ همدارنګه وبه ګوري چې ایا هر یو دهغه څه په اړوند چې کیږي قناعت لري  اودراتلونکي له پاره پلان جوړ کړي ٠



.

## هغه کسان چې ستاسو دبیا کتنې غونډې ته را بلل کیږي

داستاسو غونډه  ده ٠ خورا مهمه ده چې تاسو باید په کې واوسی ٠نور کوم خلك چې په  کې ګډون کوي هغوی باید په دې ډول وي او په غور سره وکتل شي  اومهمه ده چې دهرې پریکړې په باب تاسو څه وایاست ٠

نور کسان چې ښایې هلته وي عبارت دي له :

- ستاسو والدین یا خپلوان ٠
- ستاسو مسوول څاروونکي ٠
- ستاسو سوسیال کارکوونکي یا مسول شخص ٠
- ستاسو ښوونکي ٠
- ستاسو دمواظبت اوپاملرنې مسوول سوسیال کار کوونکي ٠
- دماشومانو ساتونکي ٠
- دښوونځي نرسه اویا په ماشومانو باندې پام ساتونکي نرسه ٠
- خپلواك بیا کتوونکی افسر ٠ (IRO )
- نور مشران کسان چې له تاسره کار کوي ٠٠
- ستاسو مستقل وکیل اوپایواز ٠
- ستاسو مواظب اومراقبت کوونکی ٠

تاسو باید ووایې چې څوك باد په غونډه کې وي اوڅوك باید په کې برخه وانخلي ٠ له تاسو ښایي پوښتنه وشي چې څوك غواړې غونډې ته راشي چې له تاسو سره په بیا کتنې غونډه کې مرسته وکړي ٠

**دبیا کتنې غونډه چیرته جوړیږي :**

تاسو باید ووایي چې دبیا کتنې غونډه چیرته جوړیږي ۰ دا کیدای شي هغه ساحه کې چې تاسې اوسیږئ ۰ یا ستاسو په ښوونځي اویا دسوسیال کارکوونکي په دفتر کې ۰

**دبیا کتنې غونډه په څومره موده کې جوړیږي ::**

کله چې تاسو دماشومانو دسوسیال خدماتو تر پاملرنې لاندې راشئ ۰نو لومړئ غونډه په څلورو اونیو کې جوړیږي ۰دبیا کتنې دویمه غونډه له هغه وروسته په دریو میاشتو کې جوړیږي ۰ اوبیا که چیرې تاسو دپاملرنې اومواظبت لاندې اوسئ هرو شپږو میاشتو کې دبیا کتنې غونډه جوړیږي ،

که چیرې ستاسو دمواظبت په پلان کې بدلون راشي اویا ځینې شیان نه وي ترسره شوي نو کیدای شي دبیا کتنې غونډه جوړه شي ۰تاسو دبیا کتنې دغونډې پوښتنه کولای شی ۰



## دبیا کتنې خپلواك افسر (IRO):

**هرماشوم یا زلمی چې دمواظبت اوپاملرنې لاندې وي باید دبیا کتنې خپلواك افسر ولري ۰ دهغه دنده داده**

**چې:**

- **دغوندېې اداره کول ۰**
- **-ډاډه کیدل چې هرې خبرې ته غوږ ایږدي ۰**
- **-دپلان په عملي کولو کې دهر یو دبرخې اخیستلو څارنه  هغه څه چې ته وایې اوپه پام کې ساتل چې کله پریکړه کیږي ۰**
- **-ډاډمن کیدل چې هر یو خپله خبره کوي ۰**
- **هر یو په پلان کې خپله برخه اخلي۰**
- **دراتلونکي له پاره دځرګند اوروښانه پلان طرح کول ۰**
- **په دې پوهیدل چې څرنګه هر یو خبره مني ۰۰**

**کله چې ستاسو دموظبت په پلان  بیا کتنه کیږي ۰ افسر وغواړي چې ستاسو خبرې دهغه څه په باره کې چې تر سره شوې واوري اوهره ستونزه چې تاسو لرۍ مرسته ترلاسه کړۍ اوڅه ته چې اړتیا لرۍ هغه په ډاګه کړۍ ۰**

**ستاسو خپلواك افسر به وغواړي چې له تاسو سره له غونډې تر مخه خبرې وکړي چې ځان ډاډه کړي چې په غونډه  کې به څه تیریږي اوپه ټولو به وپوهیزۍ اوڅه چې ویل غواړۍ ۰ دا به تاسو ته موقع درکړي چې که څه غواړې  دهغه په باب خبري وکړي ۰نو که په دې اړوند څه خبره وي  اوتاسو نه غواړي په غونډه کې پرې خبري وکړي له   افسر سره یې شریکوۍ ۰**

## ستاسو دبیا کتنې غونډه کې حضور

تاسو به ستاسو دراتلونکي له پاره دهر ډول پریکړي یوه برخه واست ۰که تاسو په غونډه کې دخبرو کولو په اړوند اندیښنه لرئ نو له یو چا نه پوښتنه وکړئ چې پرې باور لري چې ستاسو په نماینده ګۍ خبري وکړي ۰ تاسو اړ نه یاست چې په ټوله غونډه کي کښینئ تاسو هر وخت ترې بهر تللي شئ ۰

که تاسو نه غواړې چې دخپلې بیا کتنې غونډې کې ګډون وکړئ نو دخپل پالونکي سره خبرې وکړئ اویا یې سوسیال کارکوونکي ته اویا خپلواك افسر ته وواییې هغوئ به ستاسو په نماینده ګۍ خبرې وکړي ۰هغوئ به ډاډمن شي چې څه خبره ده ۰

هرډول مرسته اوکومك چې تاسو ورته اړتیالرئ لکه دترجمان چمتو کیدل ټولې اسانتیاوي به اماده شي ۰

که چیرې تصمیم لرئ چې دبیا کتنې غُونډه کې ګډون ونه کړئ نو دخپل مواظب سوسیال کاروونکي اویا بل چاسره چې تاسو ته دباور وړ دی خبرې وکړئ ۰که غواړې مطلب مو ولیکئ اودبیا کتنې خپلواك افسر ته یې ورکړئ اودبیا کتنې په غونډه کې به ستاسو په نماینده ګۍ ګډون وکړي ۰

## دبیا کتنې غونډې ته چمتو والی

له غونډې نه ترمخه به تاسو ته دسلامشورې یو کتاب درکړل شي چې هغه څه چې وایې هغه په کې ثبت کړئ ۰ تاسو کولی شئ یو لست جوړ کړئ اویا متن پیغام واستوئ ۰ چې له تاسو سره مرسته وکړي چې څه غواړئ وواياست ۰ که تاسو غواړئ چې دکتنې ټولې برخې اویایوه برخه نظارت کړئ ۰ستاسو سوسیال کارکوونکي یا خپلواك افسر به له تاسو سره مرسته وکړي ۰

## ستاسو دکتنې له غونډې وروسته

ستاسو سوسېال کارکوونکي یا پاملرونکي اویا خپلواك افسر باید له غونډې وروسته له تاسو سره خبرې وکړي چې پوه شي چې ایا تاسو پوهیدلي یاست اوکه نه اوهغه پریکړې چې وشوی تاسې پرې پوه شوی ۰که چیری داسې پریکړه شوې وي چې تاسې ورسره موافق نه یاست نو هغوی متیقن کړه اووې پوهوی چې داسې پریکړه مو کړې ده ۰۰



## دشكايت درجول يا ثبتول

که تاسو دهر ډول پريکړې سره موافق نه ياست نو دخپل مواظبت کوونکي

،سوسيال کارکوونکي سره  خبرې وکړي اويا دخپلوا ك افسر سره تماس ونيسئ

.که بيا هم قانع نه ياست نو بيا شكايت وکړئ.

دشکايت ددرجولو  دزياتو  مالوماتو له پاره دلاندې خپلواکو کتنو خدماتو سره اړيکه ونيسئ.

دخپلواکو بيا كتنو خدماتو اداره

- شمال/ لويديځ

Worrall House
30 Kings Hill Avenue
West Malling  ME19 4AE

Tel: 03000 421543
email: IROServiceNW@kent.gov.uk

- جنوب ختيځ

Brook House
Reeves Way, John Wilson Business Park
Whitstable  CT5 3SS

Tel: 03000 421544
email: IROServiceSE@kent.gov.uk

Advocacy and Independent Visitor Service:

- Young Lives Foundation

71 College Road
Maidstone  ME15 6SX

Tel: 01622 683815
email: advocacy@ylf.org.uk